

# نامونې

## ژوې

د کوشنیانو او تنکیو ځوانانو له پاره


لیکوال:

ډاکټر مهندس حشمت الله  اتمر

میاشت – مرغومی/ کال- ۱۴۰۲


Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



(c) ketabton.com: The Digital Library



.........................................................................................

## لیکي پوهه:

**سرلیک:** نامنوني ژوي
**لیکوال:** ډاکټر مهندس حشمت الله ,, اتمر ،،
**اېډېټور:**
**طراح او ډیزان:** ډاکټر مهندس حشمت الله ,, اتمر ،،
**خپرندوی:**
**چاپشمېر:** ۱۰۰
**چاپ نېټه:** مرغومي میاشت / کال ۱۴۰۲
**ګرځنده اړېکه:** ۹۳۷۹۹۳۷۶۹۹۸+
**برېښنالیک:** atmar_hashmatullah@yahoo.com

د چاپ حقوق له لیکوال او خپرندوی سره خوندي دي، بې اخځ ښووني ترې د ګټې اخیستنې اجازه نه شته.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# لړلیک

**سرلیک** **چوپړی**

پخښنتی........................................................... ۱
بسم الله الرحمن الرحیم.............................................. ۲
لیکي پوهه:.................................................... ۳
لړلیک ............................................................ ٤
ننتوزې ............................................................ ٥
د یادښتونو له پاره:............................................... ۷
نامنونې کبلی .................................................... ۸
نامنونی سوی ................................................... ۳۱
نامنونې پیشو.................................................. ٤٥
نامنونی کوکری ................................................. ٦٤
نامنونی پړانګوری................................................ ۸۰
اخځوک........................................................ ۱۰۹
د چاپ شویو کتابونو لېست..................................... ۱۱۰
د چاپ لاندې کتابونو لېست ................................... ۱۱۳
د امکان او وخت په صورت کې.................................. ۱۱٤
څتې پخښنتی ................................................ ۱۱٥

(c) ketabton.com: The Digital Library



.............................................................................................

## ننتوزې

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمنِ الرَّحِيمِ، الْحَمْدُ لِلَّهِ إجْلَالًا لِقُدْرَتِهِ، وَ لَا إلَهَ إلَّا اللَّهُ خُضُوعاً لِعِزَّتِهِ، وَصَلَّى اللَّهُ عَلَى مُحَمَّدٍوَآلِهِ .

بې پايه ستاينه او بې حده مننه، د هغه سپېڅلي ذات نه چې د وجود مانۍ او کاينات يې د انساني وجود د تکامل او د انسان له پاره د خپل سپېڅلي ذات او عبادت د حقيقت له پېژندلو پرته جوړ کړل. هغه د ذات پوهه، عالي، لوړ او ښکلي نومونه دي، او کائناتو د پيدايښت يوه حتمي لامل دی. عظمت، د ټولې نړۍ موجوديت، د ناڅاپه څخه راوتل، حق د رسيدو جوهر په يوه والي کې د اعتراف، تباهۍ او بې وسۍ يوه له لوړو وسيلو څخه ده.

**ګرانو لوستونکو!**

دا ځل مې و غوښتل چې پنځه داستانونه د کوښنيانو او تنکيو ځوانانو له پاره و ليکم ځکه زما د کتابونو مېنه وال يوازې انجينران نه دي او نه بايد اوسي، نو ځکه غواړم ورځ په ورځ د خپلو ليکونو کې توپير راوړم چې د هرې ځانګې مېنه وال په کې ډېر شي، دا کار به ما دېته اړ کړې چې ليکنې مې توپير و لري او هم به مې مينه وال ډېر شي.

**پاکه ربه!**

زموږ له پاره خپله لاره بې ستونزې کړه، تر څو موږ له تا پرته بل څوک و نه وينو او نه يې پېژنو. زموږ سره مرسته و کړه تر

(c) ketabton.com: The Digital Library



.............................................................................................

ځو مو په وجود کې د غرور نخښنه پاتې نه شي او د اسلام د دين له سپېڅلو بنده ګانو څخه مو و بولې.

**يادونه:**

د نظر ټولو خاوندانو او هغه ځوک چې دا کتاب لولي په ډېر درنښت هېله کيږي چې خپلې غوښتنې او وړانديزونه د دې کتاب د بيا کتنې له پاره زما سره شريکه کړئ.

Whatsapp: ۰۰۹۳۷۹۹۳۷٦۹۹۸

په در نښت
ډاکټر معمار حشمت الله اتمر

(c) ketabton.com: The Digital Library



.........................................................................................

## د يادښتونو له پاره:

۱- .........................................................................................

۲- .........................................................................................

۳- .........................................................................................

۴- .........................................................................................

۵- .........................................................................................

۶- .........................................................................................

۷- .........................................................................................

۸- .........................................................................................

۹- .........................................................................................

۱۰- .........................................................................................

(c) ketabton.com: The Digital Library



# نامنوني کبلی



(c) ketabton.com: The Digital Library



.................................................................................................

افغانان د ښکارسره ډېره مينه لري.
دوی د ژويو او الوتونکو ښکار کوي.
په هېواد کې ښکار منع دی.
مراد هم له ښکار سره مينه درلوده؛
يوه ورځ مراد له خپلو ملګرو سره ښکار ته لاړ، او د ښکار ټوپک يې هم له ځانه سره واخيست.
هغه پوهېده چې د کړکومي ( لومې، تلکې يا دام) په مرسته ښکار کولای شي.
مراد او ملګرو يې له ځانه سره يوه اندازه خواړه او اوبه واخيستې او په ګډه سره د زرغونې (شنې) دښتې خوا ته روان شوو.
دا دښته د لوړو غرونو څنګ ته موقعيت درلود، د غره په مينځ کې د سپېڅلو (پاکو) اوبو يوه چينه وه چې ژويو او الوتونکو به ترې اوبه څښلې.
ځينې وختونه ښپانه هم د اوبو څښلو او خپلو رمو ته د اوبو ورکولو له پاره کاروي.
دوی د چينې په لور حرکت وکړ.
د مراد ملګرو وپوښتل:
آيا پوهېږې چې هوسۍ چيرته راځي؟
هغه ځواب ورکړ:
هو!

(c) ketabton.com: The Digital Library



..........................................................................................

دوی د سهار او ماښام شاوخوا د اوبو څښلو له پاره چينې ته راځي.
موږ بايد چينې ته نږدې شو.
دوی چينې خواته لاړل.
درې ګړۍ وروسته، دوی چينې ته ورسېدل.
هوا ګرمه وه.
دوی ستړي او تږي وو.
مراد چينې ته نږدې شو او خپل بوټان يې له پښو نه را وېستل او چينې لښتي ته ګډ شو.
د چينې اوبه ډېرې سړې وې
هغه خپل ملګري را وبلل او ويې ويل:
راشئ، څومره سړې او پاکې اوبه دي!
د مراد ملګري هم لښتي ته ګډ شوو.
دوی د چينې اوبه څخه وڅښل.
وروسته دوی د لښتي څخه و وتل.
دوی خپل څادر د چينې تر څنګ کې اوار(خپور) کړ.
دوی د غرمې ډوډۍ په خپل کوچني څادر کې کېښوده او په خوړو يې پيل کړ.
وروسته يې ختينه کوزه د چينې اوبو نه ډکه کړه او سړې اوبه يې وڅښلې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دوی د چینې څخه لږ لیرې لاړل او د غره په یوه لوړه برخه کې پر ډبره کښیناستل، چیرې چې چینه ښه لیدل کېده.
دوی چینې ته کتل.
یوه ګړی تېره شوه
لمر په لوېدو پیل کړ.
په همدې وخت کې یوه هوسې له خپل کبلۍ سره د اوبو څښلو له پاره چینې ته راغله.
مراد غوښتل چې پر هوسۍ ډز و کړی، خو ملګرو یې مخه ونیوله او ویې وېل:
ډز، مه کوه، هغه کبلۍ لري.
ګوره!
هغه څومره ښکلې (ښایسته) ده.
مراد و ویل:
هو!
پوهه شوم!
دا په ریښتیا هم ښکلې ده.
ما هیڅکله دا ډول کبلۍ نه دی لیدلی.
یوه ملګري یې و ویل:
ایا موږ نشو کولی دا ونیسو او کور ته یې یوسو؟
مراد چې په دې برخه کې سړې تودې (د ژوند پوخوالی یا تجربې) درلودې و ویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه!
امکان نه لري.
کبلۍ ډیر کوچنی دی چې لاهم په سمه توګه منډه نه شي کولای.
ملګرو یې و ویل:
راځئ چې منډه کړو او ویې نیسو.
مراد و ویل:
نه!
تاسو باید د ماښام ډوډۍ ته انتظار(صبر) وکړئ،
موږ به یې څار(تعقیب) کړو او وبه یې نیسو.
په منډو سره، موږ نشو کولی هغه ترلاسه کړو.
ځکه چې هر څومره کوچنی هم وي، بیا هم کولی شي زموږ په پرتله ګړندی وګرځي.
هوسې له خپل کبلۍ سره د خپل کور په لور روان شو.
مراد او د هغه ملګرو، پریکړه وکړه چې دوی و څاري (تعقیب کړي).
دوی ورو، ورو خپل کور ته نږدې شول.
مراد او ملګري یې هم په لټه کې وو.
د دوی کور په لوړ ځای کې وو.
مراد او ملګري یې نه شوای کولای هغوی ښه وڅاري،
ځکه وبریدل چې په لاره کې یې کوم ژوی لکه:
لیوه، پړانګ او یا زمری نه وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دوی د شپې تېرولو له پاره يوه مناسب ځای وموند او پرېکړه يې وکړه چې هلته شپه تېره کړي، سهار بيا چينې ته ولاړ شي چې کبلۍ ونيسي او کور ته يې بوځي.
دوی په سوچ کې ويده شوو.
سهار شو.
هوسۍ ، کبلي ته و ويل:
نن زما سره چينې ته مه ځه.
ځکه چې پرون يو شمېر خلکو زموږ ښار کاوه.
ته نشۍ کولی ګړندي منډې و وهۍ او له دوی څخه ځان خلاص کړۍ، زه هم ستا سره کومه مرسته نشم کولی.
ګوره!
لږ پورته لاړ شه او ډېرې ښې ته نږدې کښېنه، تر څو خلک تا ونه ويني.
دوی به تا ونيسي.
هغه و ويل:
زه وږی يم.
مور يې شيدې ورکړې او ويې پوښتل:
موړ شوې؟
هغه و ويل :
هو!
زه موړ شوم.
مننه مورې!

(c) ketabton.com: The Digital Library



مور يې بيا و ويل:
ستا په شاوخوا کې ښکلي او تازه واښه شتون لري.
ته کولی شئ لږ څه وخورئ!
ډير مه خوره، ځکه چې دا به ستا معدې ته زيان و رسوي.
هغه و ويل:
دا سمه ده، مورجانې.
دوی د خبرو په منځ کې وو، چې ناڅاپه يې د مور سترګې
په مراد باندې واوښتې، چې دوی ته يې کتل.

(c) ketabton.com: The Digital Library





مور يې خپله خوله د ماشوم غوږ ته نيږدې کېښوده او په نرمۍ يې و ويل:

هغه ده!

ګوره!

زموږ اړخ ته ښه ښکاري؟

مور يې بيا و ويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



زما بچيه!
انسانانو موږ ليدلي يو او موږ په ډير احتياط سره څاري (تعقيبوي).
له دې ځايه مه خوريګه!
زه لاندې ځم، لږ واښه خورم.
بيا به وروسته له چينې څخه اوبه وڅښم او ژر به بېرته راشم.
کبلۍ و ويل:
سمه ده، مور جانې!
ژر راشه، زه يوازې يم.
زه د انسانانو او نورو ژويو(حيواناتو) څخه وېرېږم.
مور يې و ويل:
سمه ده، زه ځم، مګر ته خپل ځان ته پام کوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library





کبلۍ و ویل:
زه پوهیږم، مورې!
زه هم ستا په شان هوښیار یم.
مور یې و ویل:
هو!
مګر ته لاهم کوچنۍ یې؟
کبلۍ وخندل او ویې ویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



.....................................................................................

سمه ده مورې!
زه به تر هغه لرې نه ځم تر څو چې ته دلته را نه شې.



وروسته یې مور ښکل کړ او ویې ویل:
الله دی وساته!
کبلۍ په خندا شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library





مور يې د وابنو خوړلو له پاره بنکته شوه، په لاره کې د نورو هوسيو سره يو ځاى شوه او په غورو(قصو) يى پيل کړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



........................................................................................

هم يې غورې (قصى) کولې او هم يې تنکي وابښه خوړل.



د کبلۍ وخت نه تېرېده او نه ورته خوب ورته.
هغه دلته او هلته وکتل، مګر هيڅ يې ونه ليدل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



وروسته هغه پاڅېد، چې انسانان و ويني چې هغه ته نږدې دي او که نه؟
هغه، انسانان ونه ليدل.
ځکه چې بېرته چينې ته ستون شوی وو.
وروسته يو څه پورته وخت او د يوې کوچنۍ غونډۍ سر ته پورته شو.
هغه هرې خوا ته وکتل او هيڅ يې ونه ليدل.
ناڅاپه يې سترګې د هوسيو په رمې ولګېدې چې دښته کې په څرځايونو او لوبو بوخت وو.
دوی يو د بل تر شا منډې وهلې، په حقيقت کې دوی لوبه (تمرين، مشق) کوه چې څنګه دوی کولی شي په خپله چټکه (تيز) منډه له دښمنه ځان وژغوري او دښمن و نه توانېږي دوی ونيسي.
دا ډول لوبې (تمرينونه) د تجربه لرونکو هوسۍ له خوا لارښوونه کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



.......................................................................................



وروسته ځوان هوسۍ د کوچني هوسیو له پاره تمرین وکړی، ترڅو هوسۍ خپل دوست او دښمن وپېژني، څنګه له دښمن څخه ځان وژغوري او له نورو سره مرسته (همکاري) وکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library





کبلۍ ببرته خپل ځای ته راغی او له هغه ځایه یې هر لوري ته وکتل، خو د انسانانو کومه نښه نه وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library





څو ساعته تېر شو او مور يې بېرته راستانه شوه.
د مور په ليدلو ډېر خوشحاله شو او ورته يې و ويل:
ما هري خوا ته وکتل او په دښته کې مې ته ولیدې چې له
نورو هوسيو سره دي زرغون (شنه) واښه خوړل.
مور يې و ويل:
هو!
وروسته يې مور و پوښتل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



انسانان دي نه دي ليدلي؟
هغه ځواب ورکړ:
**نه!**
ځکه چې زه ستا له تګ وروسته يو لوړ ځای ته لاړم، چيرې چې انسانان او نور ژوي (حيوانات) نشي کولی پورته شي.
مور يې ډېره خوشحاله شوه او ژمنه يې وکړه، چې سبا به يې له ځانه سره دښتې ته بوځي، ځکه چې نږدې زرغون (شنه) بوټي او واښه له منځه ځي.

دوی بايد بلې خوا ته لاړ شي، ترڅو نور او ډېر خواړه ومومي.
مور يې هغه ځای پريښود چې مراد د شپې په تياره کې ليدلی و او سهار بل ځای ته ولاړل چې د هوسيو له رمې سره سفر وکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library





د لارې په اوږدو کې کبلۍ خپلې مور ته و ویل:
اف!
څومره لاره اوږده ده!
پښې مې په درد شوې.
مور یې و ویل:
سخته نه ده، ته به ژر عادت کړې.
راځه راپسې!
د پښو درد به دې ښه شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغوي لږ څه مخ ته لاړل او د لارې په اوږدو کې موریې خپل پروسږنی (پروسکلنی) زوی ولید، او پر هغه یې غږ کړ:

راشه!

خپل کوشني ورور سره دې و پېژنه (معرفي شه)!

هغه ودرېد او خپل کوشني ورور سره پېژند وکړ او خوښ (خوشحاله) شو.



هغوی په کیسه کې بوخت و چی د هوسیو رمه یې ولیده، رمه دوی خوا ته د راتګ په حال کی وه، هوسۍ د خپلو دواړو زامنو سره رمې ته ګډ شول او د سفر لوري ته روان شوو.

(c) ketabton.com: The Digital Library





مراد له خپلو ملګرو سره چينې ته نږدې د کبلۍ په انتظار و.
هوسۍ له خپل کبلۍ سره چينې ته نه وه راغلې.
مراد او ملګري يې ډېر وږي او ستړي وو.
دوی له ځانه سره و ويل:
دا زموږ له پاره بې ګټې ده، چې دلته اوسو.
ځکه چې هوسۍ او نور وحشي ځناور تل په حرکت کې وي، ښه او غوره ځايونه لټوي، څو ورځې او شپې هلته تېروي او بيا حرکت کوي.
په همدې حال کې د مراد يوه ملګري و ويل:
هغه ده!
ګوره!

(c) ketabton.com: The Digital Library



د هوسيو رمه، په دښته کې حرکت کوي او ورو، ورو له دغه ځای څخه لرې ځي.
د کوشنيو رمو په منځ کې، کبلي هم ليدل کېږي، ښايي هغه کبلۍ هم په رمه کې وي.
هغه ډېر ګړندی (تيز) او هوښيار و.
مراد و ويل:
ښايي سږ کال مو وخت (فرصت) له لاسه ورکړی وي، ښه ده چې همدا اوس بېرته کور ته لاړ شو او د راتلونکي کال پسرلي ته په همدې وخت کې راشو، کېدای شي د هوسې ښکلې کبلۍ ونيسو او کور ته يې يوسو.
دوی ډېر غمجن شول او خالي لاس د کور په لور روان شول، څو ګړی (ساعته) وروسته خپلو کورونو ته ورسېدل، يوه له بل نه خدای پا ماني واخيسته او ټول خپلو کورونو ته لاړل.
څوک چې د مور او پلار دعا واخلي، د هغه دين او دنيا به يې د ګلونو په منځ کې وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library





(c) ketabton.com: The Digital Library



# نامنونی

# سوی



(c) ketabton.com: The Digital Library



زهرا یو سپین سوی درلود.
هغې ته دا سوی ، د ترور(تورې) له خوا د هغې د زوکړې په ورځ (سالګره) ورکړل شوی و.
زهرا سوی ته ژیړې ګازرې (زردکې) او زرغون (شنه) وابښه ورکول او کله، کله به یې په زنګون کېناو او کیسې به یې ورسره کولې.
سوی ډېر نامنونی و، د زهرا له زنګون څخه به یې ځان په ځمکه غورځاوه او دلته او هلته به یې منډې کولې.
زهرا یوه خور ړونه (خواهر خوانده) درلوده، د هغې نوم زهره وه.
هغه د دوی د کور ترڅنګ ژوند کوه، په دې مانا (معنی) چې دوی ګاونډیان وو.
زهرې یوه کوکری درلود، د هغې کوکری هم نامنونی و.
یوه ورځ زهره د خپلې ملګرې کور ته لاړه، د هغې کوکری هم ور سره و.
سوی کوکری ولید، ور نږدې شو او له هغه څخه یې وغوښتل چې ور سره ملګری شي.
کوکري ومنله.
زهرا او زهره په غولي (حویلی) کې د نانځکو کېنولو لوبې پیل کړې.
سوی له کوکري څخه وغوښتل چې له هغه سره کور ته لاړ شي او هلته لوبې وکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



........................................................................................................

کوکري بلنه ومنله او د سوی سره د هغه کور ته لاړ.
د سوی کور مخې ته ګازرې وې.
سوی کوکري ته بلنه ورکړه چې ګازرې وخورئ ، سوی
لومړی د ګازرو پاڼې وخوړې، بیا یې کوکري ته و ویل:
اوس ته کولی شئ ګازرې وخورئ.



(c) ketabton.com: The Digital Library



.........................................................................................

دوی لږ ګازرې وخوړې.
وروسته سوی و ویل:
راځه لوبي وکړو!
کوکري و ویل :
موږ څه لوبه وکړو؟
سوی و ویل:
د سترګو پټول.
کوکري و ویل:
دا څه ډول لوبه ده؟
سوی و ویل:
یوه ساده او د ماشومانو لوبه؛
کوکري و ویل:
لومړی ته ماته د لوبې کولو څرنګوالی وښیه، بیا مونږ یوځای لوبه کوو.
سوی، لوبه پیل کړه او ویې ویل:
ته خپلې سترګې پټې کړه، زه به ځان چیرې پټ کړم، بیا به وروسته تا ته غږ کړم، کله چې زه دې و موندم،دا مانا چې تا لوبه وګټه.
وروسته به زه سترګې پټې کړم او تا به پیدا کوم، کله چې ته مې پیدا کړې، دا مانا چې لوبه ما وګټه، همدا راز به لوبې ته دوام ور کوو.

(c) ketabton.com: The Digital Library





دوی د څو د کيکو(دقيقو) له پاره همداسې لوبه وکړه، بيا کوکري و ويل:
راځئ چې لوبه بدله کړو او نوې لوبه وکړو.
سوی و ويل:
کومه لوبه وکړو؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



کوکري و ویل:
منډی او ټینګول.
سوی و منله.
کوکري و ویل:
ته منډه کړه، زه به دې ونیسم، وروسته به زه منډه کړم، ته به مې ونیسې.
سوی ومنله او په منډه یې پیل کړ، سوی په مخ کې او کوکري ورپسې منډې وهلې.

(c) ketabton.com: The Digital Library





دوی د لویې ګازرې شاوخوا منډې وهلې.
له یوې ګازرې څخه بلې ګازرې ته.
دې لوبې څو ګړۍ (ساعته) دوام وکړ، دواړه ډېر ستومانه شول، کوکری ونه توانېد چې د لوبې د ګټلو له پاره سوی و نیسي.

(c) ketabton.com: The Digital Library





د خلکو په وینا، سوی په لوبه کې خورا ګړندی دی او په چټکۍ سره منډې کوي. لوبې دوام وکړ او کوکری ونه شو کړای چې سوی و نیسي.
سوی په ډبرو کې منډه کړه، پښه یې په ډبره ولګېده او لړ. ټپي شو.
هغه خپل کور ته لاړ او د کور په کونج کې کښیناست.
کوکري و ویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



څه شوي دي؟
زموږ لوبه منډی وې، نه پټېدل؟
سوی ځواب ور کړ:
زما پښه په ډبره ولګېده او ټپي شوه.
اوس درد کوي.
کله چې پښه مې ښه شي، زه به راشم او لوبه به بيا پيل کړم.
یو څه وخت تېر شو.
زهرې پريکړه وکړه چې کور ته لاړه شي.
د هغه کوکری نه ليدل کېده.
هغې کوکري ته غږ کړ.
کوکری راغی.
زهرې وپوښتل:
چيرته وې؟
کوکري و ويل:
ما له سوی سره لوبې کولې.
هغه وخت زهرا وپوښتل:
سوی څه شوه؟
کوکري و ويل:
موږ لوبې کولې، د سوی پښه په ډبره ولګېده او لږ ټپي شو.
زهره په غوسه شوه او ويې ويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



ته د سوی څخه هم لوی يې، تا بايد د هغه پښه نه وای ټپي
کړې!
کوکري و ويل:
نه!
مونږ لوبې کولې، چې ناڅاپه يې پښه په ډبره ولګېده او
هغه ولوېد.
زهرې وپوښتل:
اوس چيرته دی؟
کوکري ځواب ورکړ:
هغه په خپل کور کې دی.
زهرا زهرې ته و ويل:
مخکې شه!
راځئ چې دواړه د هغه سره مرسته وکړو.
کوکري و ويل:
زه هم ځم.
زهرې و ويل:
نه!
ته دلته پاتې شه،
زه او زهرا به لاړ شو او د هغه سره به مرسته و کړو.
کوکری هلته ناست و او انتظار يې کاوه تر څو چې زهره
راشي.
زهره او زهرا د سوی کور ته لاړل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



زهرا سوی ته غږ کړ.
سوی په سختۍ سره له کوره و وت.
پښه يې ټپي وه.
زهرا زهرې ته و ویل:
ته دلته پاتې شه، زه به کور ته لاړه شم او د لومړنيو مرستو کڅوړه به راوړم، او مونږ دواړه به ټپی پښه به پاکه او بيا به يې کلکه وتړو.
زهرې ومنله او د سوی سره نږدې پاتې شوه.
زهرا په چټکۍ سره لاړه او د لومړنيو مرستو کڅوړه يې راوړه، بيا دواړو د سوی پښه سپيځلې (پاکه) کړه او بيا يې وتړله.
زهرا سوی ته و ویل:
اوس په خپل کور کې لږ آرام کړه.
زه به راشم او تا ته به يو څه خواړه راوړم کوم چې ستا خوښيږي.
سوی خپل کور ته د ننه شو او غلی کښيناست.
وروسته زهرې، زهرا ته و ویل:
دا ښه کار و نشو، که د هغه پښه ماته شوې وای، موږ به څه کول؟
زهرا و ویل:
هو!
دا ښه ده چې ډير ټپي شوی نه دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیا زهرې له زهرا نه د کوره وتلو اجازه وغوښته.
زهرا ومنله.
زهرې خپل کوکرې ته و ویل:
لاړ شه!
له سویه بخښنه و غواړه !
تا د هغه شاته منډه وهلې، ځکه پښه یې ټپي شوې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library





کوکري ومنله او د سوی کور خوا ته لاړ، د سوی کور مخ ته ودرید او له هغه نه یې بخښنه وغوښته.
سوی بخښنه وکړه او ویې ویل:
زه هم یو څه ملامت یم، ځکه چې ما ګړندی منډه کړه او پام مې و نه کړ، نو زما پښه په ډبره ولګېده او ټپي شوم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



زهرا او زهرې کوکرې او سوی ته و ویل:
تاسو باید ژمنه وکړئ چې په راتلونکي کې به د خپلې لوبې سره محتاط اوسئ، که نه نو موږ به تاسو ته اجازه درنکړو چې یوځای لوبه وکړئ.
کوکري او سوی ژمنه وکړه چې په راتلونکي کې به د لوبې په وخت کې محتاط وي او په چټکۍ سره منډی نه وهي.
په دې وخت کې د زهرې مور غږ کړ.
زهرې!
زهرې!
ته چیرې یې؟
ژر راشه!
د غرمې ډوډۍ تیاره ده.
هغې و ویل:
دا ده مورې، زه دلته یم.
زهرې د زهرا سره خدای پاماني وکړه او د خپل کوکري سره کور ته لاړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# نامنوني

# پیشو



(c) ketabton.com: The Digital Library



قدوس یوه ژیړه پیشو درلوده.
هغې پنځه پیشونګري (بچیان) درلودل، ټول یې ژیړې او سپینې وې. دوی ډیر کوچني وو چې مور یې له لاسه ور کړه.

هغې د تناره کوټې کې د ننه او د اوړو د کندو څنګ ته د ځان له پاره یو کور جوړ کړی و، هغه او د هغې بچیان په کې اوسیدل، او هلته به یې خپلو بچیانو ته شیدی ورکولې.

هغه به سهار وختي د غواګانو فارم ته تله، ترڅو له لوښو څخه شیدې وڅښي، په فارم کې به یې ساعتونه تېر کړل، چې د شیدو لوشلو په وخت کې به یې له لوښو څخه یوه څه شیدې توېدې او هغه به یې څښلې.

کله چې به یې شیدې وڅښلې نو کور ته به یې د بچیانو د شیدو ورکولو له پاره راتله، لومړی به یې بچیانو ته شیدې ورکولې، بیا به یې د موږکانو او مرغانو د نیولو په اړه خپلو پیشونګرو ته په زړه پورې لوبې ښوولې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغې به هره ورځ، دا کار کوه تر څو ټول بچیان لوبه بنه زده کړي، په را تلونکي کې په ځان بسیا شي او د خوړو ترلاسه کولو له پاره په خپله کار وکړي.
ورو ورو، پړانګوری (بچیان) لوی شوو او سترګې یې خلاصې شوې.

ټول پیشونګري، نامنوني وو، دلته او هلته به یې لوبې کولې.



ځینې وختونه به دوی سالون کوټې ته تلل او په څوکیو به یې نڅا او لوبه کوله.

هغوی د شیدو ښناک وو او هغه ډوډی یا خوراک یې نه خوړل کوم چې د قدوس په کور کې پخېدل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



................................................................................





(c) ketabton.com: The Digital Library



کله، کله به يې يو د بل تر شا منډې وهلې، په وړو ونو به پورته کېدل او مرغان به يې ډارول.
دوی به هره ورځ د مرغيو نيولو هڅه کوله.

ځينې وختونه دوی به د کړکې څخه بهر ته شوو او بيا به ونې ته پورته شوو.

يوه ورځ چې مور يې ډېره ورږې وه، د غواګانو فارم ته لاړه، هلته يې د فارم د مسول انتظار کوه چې راشي او غواګانې ولوشئ.

هغه غواګانو ته نږدې شوه او د وابنو په وړاندې کېناسته او د فلزي ميلو(کټارو) لاندې کانکريټ ديوال ته يې تکيه وکړه.

غواګانو هم د پيشو بويول پيل کړ.

په همدې وخت کې د فارم مسول فارم ته ننوت او ويې ليدل چې پيشو د غواګانو له خوا ځټل کېږي، د فارم مسول چې پخوا يې هيڅکله پيشو په فارم کې داسې نه وه ليدلې، ډېر په غوسه شو او هڅه يې وکړه چې پيشو له فارم څخه وباسي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



پیشو چې د شیدو په خوړلو بلده شوې وه، هڅه وکړه چې له فارم نه، و نه وځي، خو د فارم مسول ډېر جدي و، چې پشک له فارم څخه وباسي او وروسته یې د غواګانو په شیدو لوشلو او ټولولو پیل کړې.

هغه سوچ (فکر) کوه چې پیشو کولی شي فارم ته ببلا ببېل ناروغي ورسوي (انتقال کړي) اوغواګانې ناروغه کړي.

یوه غټه لښته یې راواخیسته او د پیشو په لور یې منډه کړه تر شا یې وغورځوله، تر څو له فارم څخه و وځئ.

پیشو چې وږي وه، نو د فارم له یوې خوا څخه بلې خوا ته منډې وهلې او نه یې غوښتل چې وږې یې له فارم څخه وباسئ.

کله، کله به یې د غواګانو په منځ کې راښکته کیده او کله به یې د فلزي کټارو ته پورته کېده او له فارمه د وتلوڅخه به یې ځان ژغوره.

د فارم مسول هوډ درلود تر څو پیشو لیرې کړي او وروسته د غواګانو د شیدې په لوشلو او ټولو پیل کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



پیشو، ځان د غواګانو په منځ کې پټ کړ، چې ناڅاپه (نا ببره) یوه غوا په غوسه شوه او د پیشو په سر یې په کلکه (زوره) د لغتی ګذار کړ، پیشو بې هوښه شوه.

د فارم مسول پیشو ته ورغی، ویې لیدل چې هغه بې هوښه ده، پیشو یې د لکۍ نه و نیوله او له فارم څخه یې و ویسته ، د فارم دروازه یې وتړله او پیشو یې د فارم د ودانۍ دیوال ته وغورځوه او په لښته یې چوخ کړه، هغې حرکت و نکړ بیا یې په لاس و خوزوه، خو پیشو حرکت نه کاوه، پوه شو چې پیشو خپل ژوند له لاسه ورکړی دی، مړه شوې ده.

وروسته یې پیشو د لکۍ نه  واخیسته او د فارم دروازې ته څېرمه د کثافاتو لوی لوښي ته وغورځوه، ترڅو چې د ښاروالۍ مسولین یې له ښار څخه بهر، ټاکل شوي ځای ته و لیږدوی(انتقال کړي).

ساعتونه تېر شول، د پیشو هېڅ خبر نه و، د پیشو بچیان ډېر وږي شول او پخلنځي ته راغلل، د قدوس مېرمن، په پخلي بوخته وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



پیشونګري، د قدوس د ښځې شاوخوا ګرځېدل او میاو، میاو یې کول.

هغې د پیشونګرو له پاره یوه څه وچه ډوډۍ وغورځوله، خو پیشونګرو ډوډۍ ته پام ونه کړ او میاو میاو ته یې دوام و رکړ.

پیشونګري، ډېر وږي وو، د قدوس مېرمن په پخلنځي کې خپل کار پای ته ورساوه او خپل خاوند ته یې لوښي چمتو کړل چې له کار څخه کور ته راشي او د شپې ډوډۍ له خپل خاوند او زوی سره وخوري.

قدوس له کاره راستون شو او له حمام وروسته د اوسېدو کوټې (سالون) ته لاړ، مېرمن یې سلام ته راغله او پوښتنه یې وکړه:

د شپې ډوډۍ تیاره ده، کولی شم د خوړو له پاره یې راوړم؟
خاوند یې ځواب ورکړ:
هو!
راوړه!

(c) ketabton.com: The Digital Library



د قدوس میرمن پخلنځي ته لاړه او خواړه یې راوړل، پړانګوری د اوسیدو خونې ته راغلل او میاو، میاو ویل یې پیل کړل.
قدوس و پوښتل:

پیشونګري څنګه د اوسیدو خونې (سالون) ته راغلل او میاو میاو کوي.
ښځې یې ځواب ورکړ:
کیدی شي دوی وږي وي.
قدوس و پوښتل:
د هغه مور چیرته ده چې د دوی پالنه وکړئ؟
مېرمنې یې و ویل:
نن سهار نه ورکه شوې ده.
میړه یې اندېښمن شو او ویې ویل:
د دوی د خوړلو له پاره په غاب (قاب) کې یو څه خواړه راوړه.

مېرمنې یې یو څه خواړه راوړل او مخې ته یې کېښودل، دوی د خوراک خوا ته وکتل، بیا یې بوی کړل، خو ویې نه خوړل، ځکه دوی شیدې خوړونکي وو او تر دې دمه یې له خوړو سره عادت نه وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د قدوس کورنۍ خپل خواړه وخوړل او پیشونګري يې د تناره کوټې ته و لېږدول (انتقال کړل) او د تناره کوټې دروازه يې وتړله، مګر د تناره د کوټې، پورتنۍ کړکۍ يې خلاصه پرېښوده تر څو پیشو د راتګ په وخت کې ترې ګټه پورته کړي.

قدوس سهار وختي له خوبه پاڅېد، لمړی يې اودس وکړ، بیا  د تناره کوټې په لور حرکت وکړ، د پیشونګرو د میاو میاو غږ.ونه، اورېدل کېدل.

د تناره کوټې دروازه يې خلاصه کړه او کوټې ته ننوت، هرې خوا يې وکتل، د پیشو هیڅ نښه څرک نه لګېد. کله چې پیشونګرو قدوس ولید، نو و رپسې يې منډې کړې او میا میاو يې و ویل.

قدوس پوه شو چې:
پیشو نه شته، که نه هغه به کور ته راغلی وی، وروسته يې لمونځ وکړ، بیا يې خپله ښځه د لمانځه له پاره ویښه کړه.

وخت تېر شو او د سهار چای تیار شو، دوی د سهار چای وڅښل او قدوس په خپل ورځني کار په سې روان شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



.....................................................................................

کله چې د کار ځای ته ورسېد، نو لومړی يې خپلو ملګرو ته کيسه وکړه او ملګرو يې و ويل:
که تر ماښامه پيشو بېرته را نه غله، په هغې به څه بده پېښه شوې وي، يا ښايي مړه شوې وي.

قدوس ډېر خواښينی شو او له ځانه سره يې سوچ وکړ چې، نن شپه پيشو کورته را نه شی خامخا به پيشونګرو ته څه شيدې راوړي.

ورځ په سختۍ کې تېره شوه او کور ته د تلو وخت ورسېد، په ډېر خپګان د کور په لور روان شو او له ځان سره يې سوچ وکړ:
دپيشونګرو له پاره شيدې څنګه چمتو کړئ، په ورځ کې څو ځله او کوم ډول شيدې ورکړئ؟
په سوچ کې کور ته و رسېد، او دروازه يې و ټکوه.
زوی يې دروازه خلاصه کړه او سلام يې ورکړ،
قدوس ترې وپوښتل:
آيا پيشو موندل شوی ده؟
زوی يې و ويل:
نه!
پيشونګري مياو ماو کوي.
هغه کور ته ننوت .

(c) ketabton.com: The Digital Library



میرمن یی ګرم چای راوړ او ښه راغلاست یی ورته و ویل.
قدوس مننه وکړه.
بیا یې د پیشونګرو لویولو(غټولو) خبره یې پیل کړه،
ښځې یې ځواب ورکړ:
دا غوره ده، چې بازار ته لاړ شئ او د غوا شیدې واخلئ!
خاوند یې و پوښتل:
ته به دوی ته ځنګه شیدې ورکړئ؟
ښځې یې ځواب ورکړ:
ما د کلبي د شیدو لوښی (شیر چوشک) په سم ځای کې ساتلی دی، تر څو چې ته راځئ، موږ به یې وموموو او پاک به یې ومینځو.

زه به یې د وزګارتیا (بې کاری) په وخت کې هغوي ته شیدی ورکړم، کلبي به هم زما سره مرسته وکړئ، ځکه چې هغه د پیشونګرو سره مینه لري.

قدوس بازار ته لاړ او د غوا شیدې یې واخیستې (وپیرودې)، کور ته یې راوړې، خپلې میرمنې ته یې شیدې ورکړې او کلبی ته یې و ویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



ته به هم له خپلې مور سره د پیشونګرو په شیدو ورکولو کې مرسته کوئ، ځکه چې مور دې د کور په چارو کې ډېره بوخته ده.
کلبي ومنله او خوشحاله شو؛
د قدوس ښځې، لوښی (شیر چوشک) یې له شیدو ډک کړ او پیشونګرو ته یې په شیدو ورکولو پیل کړ.
یوه ته به یې لږې شیدې ورکولې، بیا به یې بل ته، تر دې چې ټولو پیشونګرو شیدې و خوړې او بېرته د اوړو کندو څنګ ته لاړل.
د کلبي مور خپل زوی ته و ویل:
پام کوه !
پیشونګري، تیره نوکان لري، هڅه به کوئ چې دوی نه به ځان لیرې ساتئ، ترڅو تا ژوبل او یا ونه غورځوئ.
کلبي ومنله چې پیشونګري به نه ځوروي.

(c) ketabton.com: The Digital Library







(c) ketabton.com: The Digital Library



.....................................................................................

پیشونګري ورځ په ورځ غټېدل (لوېدل) او نامنونې (خندونکي) کېدل، د کور ټولو غړو سره بلد شوو او ډېرى (زیاتره) وخت به یې د کلبي شاته منډې وهلې او د هغه خوراکي شیان یې چې په لاس کې و، نیول او لوبې به یې و ر سره کولې.



(c) ketabton.com: The Digital Library



..............................................................................................



پیشونګري لوی شول او ورو، ورو د هغه خواړو خوړلو سره بلد شول، کوم چې د کلبي کورنۍ خوړل.

د کلبي کورنۍ په مهربانۍ سره د دوی له پاره شیدې په یوه لوښي کې اچولې، پیشونګرو به په ګډه وڅښلې، وروسته به یې په هماغه لوښي کې خواړه وغورځول او پیشونګرو به په ډېره خوښۍ سره خوړل.

کلبي د دوی له پاره د اوبو یوه بل لوښی د تناره کوټې په کونج کې کېښود، ترڅو دوی د تندې په وخت کې ترې اوبه وڅښئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



پيشونګري، يو څه لوی او په زړه پورې شول، دوی تل د کلبي په څار کې ول، لومړی يې د هغه لاسونه ليدل او بيا يې د هغه پتلانه (پتلون) ته پورته کېدل، د هغه د پتلانه جېبونه به يې لټول، کوم خواږه يا د لوبې وسايل چې به د هغه په جيب کې و، اخيستل، خوړل يا به يې د هغوی سره لوبې کولې.

کلبي چې له لومړی ورځې يې د هغې مور د پيشونګرو نه ډار کړی و، هغه به له پيشونګرو وېرېده ، پيشونګرو ته به يې لاس نه ور نږدې کوه، وېرېده چې هغوی به يې وغورځوي.

کله ناکله به هغه د پيشونګرو سره لوبه کوله او توپ به يې په مځکه غورځوه او پيشونګري به د توپ شاته منډې وهلې، توپ به يې يوې او بلې خواته غورځوه.

پيشونګري ورځ په ورځ لوېدل (غټېدل) ډيری ګاونډيانو او ملګرو به له قدوسه غوښتل چې دوی ته هم يو پيشونګری د ستانی له پاره ورکړی.
قدوس هم منله.
په پای کې، دوی يو ښکلې پيشونګری چې دهغوی د مور په څير و، تر پاملرنې او تعليم لاندې ونيو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



......................................................................................

کلبی به هم ورسره لوبې کولې او کله ناکله به يې د چېرته تګ او وادو پر وخت له ځانه سره بووله او بيا به يې کورته راوړه.



(c) ketabton.com: The Digital Library



کلبي هم لوی شو او په ښوونځي کې دننه (شامل، داخل) شو،
نوي ملګري یې پیدا کړل.
ورځ په ورځ به یې له پیشو سره مینه لږېده.
همدا راز، هغه د جومات له ملا امام نه یې دیني زده کړې پیل کړی.
د ښونځي نه، وروسته به جومات ته ته.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# نامنونی



(c) ketabton.com: The Digital Library



ماکسيم (بهرنی نوم دی) دوه سپيان درلودل او په پخلنځي کې يې د هغوی خوب له پاره ښکلي کارټنونه ايښی و، دوی ډير ښه روزل شوي وو.
دوی ته د ماشومتوب څخه، تشناب ته د تلو او کموډ کارول ښوول شوي وو.

د دوی رنګ سپين و او د انګليسي زات سپيو څخه وو، ماکسيم دوی په لوړه بيه اخيستي وو، او هر يو يې د زيږون پاڼه (سند، پاسپورت) او د خواړو کارټونه درلودل.

ماکسيم او د هغه ميرمن نتاشا (د بهرنی ميرمنې نوم) دوی ته د خپل مهال ويش سره سم خواړه ورکول، په بهرکې د سپي خواړه د انسانانو له خوړو څخه کم نه دي، د خوړو سربېره، حيوانات د انعام (جاېزې) بسکټونه لري چې د سپي انعام بسکټ په نامه يادېږي.
دا بسکويټ د هډوکو شکل (قواره) لري او بيه يې ۷۲ امريکايي ډالرو ته رسېږي.

ماکسيم په اونۍ کې يو ځل خپل سپي، تشناب کې د سپي شيمپو(شامپو) سره مينځل، د سپي څادر(ځان پاک) سره يې وچول او ويښتان به يې ږمنزول.

(c) ketabton.com: The Digital Library



.......................................................................................

سپي به يې له کوره بهر نه پرېښودل، ځکه چې ښاروالۍ حق درلود که چېرې کوم سپی له کوره بهر وي، نو سمدستي به يې د کوڅه ډبو سپيو کمپ ته وړي.

وروسته به يې خاوند د پوليسو له لارې موندل کېږي او دوی به جريمه کېږي، که چېرې دا مسله تکرا رېږي نو دوی به د سپي ساتلو واک څخه محرومېږي او يا جواز يې لغوه کېږي.

دوی سپي د محفلونو او ساتېرۍ له پاره وړل، او کله چې بيرته راستانه کېدل، دوی د خپل موټر په کارولو سره به يې بيرته کور ته راوړل.

دوی ماشومان نه درلودل او تل به يې له خپلو سپيو سره لوبې کولې، يو کال تېر شو، کوکری يې وزېږېد، هغه هم د مور او پلار په څېر سپين و.

ماکسيم د کوکري له پاره يو بل ښکلی کارټن واخيست او په پخلنځي کې يې کېښود، د سپي د کارټن رنګ سور، خو ډير ښکلی و او هغه په آسانۍ سره به په کې خوب کوی شو، او په کارټن کې به يې لوبې هم کوې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



کوکری لوی او نامنونی (خندونکی) شو، له پخلنځي ووت، د خوب کوټې په لور او وروسته په دالان کې منډې کولې، په توپ يې لوبې کولې او کله، کله به يې د پلار په اوږو کېناست او ځان به يې غورزاوه.

د خپل د پلار او مور غوږونه به يې راکش کړل او بيا به و تښتېد، خو مور او پلار به يې ورته په زغم (صبر) کتل او له دې کاره به يې منع کوه.

دوی کوکري ته جيک نوم ورکړ، نامنونی جيک به د کور دروازې ته، ته اود کور د دروازې څنډ (شاته ) به يې خوب کوه، کله چې ماکسيم او ميرمن يې له کاره راتله، جيک به هڅه کوله چې دروازه خلاصه کړي، خو د هغوی سره به کيلي وه او هغوي به په کيلۍ سره دروازه خلاصه وله.
جيک ډير هوښيار و او تل به يې د دروازې خلاصېدو ته کتل، چې څنګه دروازه د کيلۍ په واسطه خلاصيږی .
جيک غټ او ښکلی شو او نامنوني يې لس برابره ډيره شوه، د ماکسيم بوټان يې هم د پخلنځي د ميز ترڅنګ ( شا) وړل او پټول، کله، کله به يې د ټلوېزيون ريموټ له يوې کوټې نه بلې ته وړه او د تلويزيون چالانول يې هم زده کړل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



یوه ورځ یې په خپله خوښه ټلوېزیون چالان کړ او ورته یې وکتل.
ماکسیم تل ورته نصیحت کوه چې له کوره بهر مه وځه، په کور کې شور ماشور مه کوه ترڅو ګاونډیان د تا په اړه پولیس ته شکایت ونه کړي.

جیک په خپل کارټن کې لږ و او ډیری یې د خپل مور او پلار سره لوبې کولې. هغه خپل کارټن له پخلنځي څخه د اوسیدو خونې ته وخوځاوه، ځکه چې د اوسیدو(سالون) خونه کې ټلوېزیون او ځای لوی و، هغه د ماکسیم او میرمنې خبرې اورېدلې، هغه خورا هوښیار و، د خبرو کولو په موخه او د خپل خاوند په حرکتونو پوهېده.

(c) ketabton.com: The Digital Library





(c) ketabton.com: The Digital Library





یوه ورځ چې د ماکسیم مېرمن، په کرونا اخته شوې وه او په روغتون کې بستره وه، ماکسیم هم روغتون ته د خپلې مېرمنې لیدو ته ورغی، جیک چې ډېر هوښیار و، له وخته یې ګڼه پورته کړه او د دروازې کیلۍ یې واخیسته او د دروازی خوا ته روان شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه کیلۍ په قلف (قفل) کی دننه کړه او د دروازه قلف یې خلاص کړ، بیا یې دروازه ورو، ورو خلاصه کړه تر څو مور او پلار یې خبر نه شي چې هغه بهر تلی دی.

هغه له کوره و وت، ورو، ورو د عمومی زینې ته لاړ او له هغه ځایه ښکته شو. هغه د ودانۍ څخه بهر شو، هغه د لمړي ځل له پاره د زینو څخه ښکته شو.

کله چې د ودانۍ کوچني پارک ته ورسېد، شاوخوا یې وکتل، هیڅوک یا کوم ژوی نه لیدل کېده. هغه لاړ او د یوې ونې سیوري لاندې یې کخښیناست او د خپل خاوند (مکسیم) د راتلو په انتظار شو.
یو ساعت تېر شو، ډېر تږی شو، پاڅېد او شاوخوا یې وکتل، چې د اوبو څښلو ځای پیدا کړي.

هغه ولیدل چې د ماکسیم د کور څنګ ته یو پوړیز کور دی، مخې ته یې په کوچني بڼ کې د اوبو نل (پایپ) دی، ډېر خوشاله شو او د نل خواته روان او ځان یې نل ته و رساوه.

هغه د خپلو پنډو(پنجو) سره نل خلاص کړ او په څښلو یې پیل کړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



وروسته يې هڅه وکړه چې د اوبو نل بند کړي، خو پنجې يې لندې (لمدې) شوې او د نل بندول ورته آسانه کار نه و، نو شاوخوا يې وکتل څوک پيدا کړي چې مرسته ورسره وکړي، د اوبو نل بند کړي، خو څوک يې ونه ليدل.
ځکه چې هر څوک په خپل کار کې بوخت وې او هيڅوک په بڼ او کوڅو کې بې ځايه او ناحقه نه ګرځي.

هغه سوچ (فکر) وکړ چې دا به غوره وي چې غړ پورته کړي او يو څوک ومومي چې د هغه سره مرسته وکړي او د اوبو نل بند کړي، هغه په چيغې (غپا) پيل کړ.

په يو پوړيز کور کې يوه بوډا ښځه وه، هغه د ماښام په وخت د شپې له ډوډی وروسته له کوره وتله  بيا بڼ ته روانېده، ناڅاپه يې د سپي غړ(غپا) واورېده او حيرانه شوه، چې سپی له کومه راغلی دی؟

کړکۍ ته نږدې شوه چې ويده ده او که په ويښتيا (بيداری) کې يې  د سپي غږ اورېدلی دی؟
بڼ (باغ) ته يې وکتل چې هلته د اوبو نل ته نږدې (څېرمه) يو سپين کوکری دی او غاپي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه بېرته دالان (دهلېز) ته راغله او د سيمې ښاروالۍ ته زنګ و واهه، څو شېبې وروسته د ښاروالۍ مامورين له ځانګړو موټرو او ښکار دامونو سره و رسېدل.
بودۍ ښځه له کوره و وته او بڼ ته روانه شوه، د ښاروالۍ مامورينو په تېزۍ (چټکۍ) سره کوکرۍ ونيو او په خپل موټر کې يې وغورځوه.
بيايې له ښځې پوښته وکړه:
تا ولې کوکرۍ بهر پريښود؟
هغې و ويل:
کوکرۍ زما نه دی.
په کور کې ويده وم چې ناڅاپه (نا ببره) مې د سپي غږ واورېد او له خوبه ويښه شوم، کړکۍ ته نږدې لاړم ګورم چې کوکري د اوبو نل پرانستی او غاپي!
پرېکړه مې وکړه چې:
د ښاروالۍ مامورينو ته زنګ و وهم، په همدې وخت کې پوليس هم را ورسېدل او د ښځې خواته نږدې شول.
پوليسو و ويل:

که څوک د کوکري په اړه پوښتنه وکړي؟
مهرباني وکړئ !
ورته و واياست چې د ګاونډ پوليسو ته راشي.
ميرمن ومنله.

(c) ketabton.com: The Digital Library



پولیس خپل مرکز ته لاړل.

یو ساعت تېر شو، ماکسیم کور ته راغی، هغه ولید چې د کور دروازه خلاصه ده، په چټکۍ سره کور ته ننوت او خپل سپي یې ولیدل، هغه فکر وکړ چې جیک هم په کور کې دی، هغه د سیمې پولیسو ته زنګ و واهه او د قضیې په هکله یې پو لیسو ته لنډ معلوات وړاندې کړ.

پولیسو ورته لارښوونه وکړه چې هیڅ شی ته به لاس نه ور وړي، پولیس ډیر ژر راو رسیدل او په کور کې یې پلټنې پیل کړې.

د دروازې عکسونه اخیستل یې پیل کړل، ویې لیدل چې دروازه دننه خوا خلاصه شوې ده.
پولیسو له ماکسیم څخه وپوښتل:
په کور کې څوک و؟
هغه ځواب ورکړ:
هیڅوک نه ول.
وروسته یې وپوښتل:
ایا تاسو چا ته کیلۍ ورکړی چې ستاسو د سپیوساتنه وکړي؟
ماکسیم ځواب ورکړ:

(c) ketabton.com: The Digital Library



............................................................................................

نه!
هيڅا ته!
وروسته پوليسو و پوښتل:
تاسو څومره سپي لري؟
ماکسيم و ويل:
دوه لوی سپي او يو کوکری لرم.
پوليسو و ويل:
سپيو ته دې غږ کړئ!
ماکسيم سپيو ته غږ کړل او دواړه سپي راغلل،
پوليسو وپوښتل:
ستاسو کوکری چيرته دی؟
هغه و ويل:
په کور کې دی، هغه ځان ته پام کوي، ځکه چې هغه ډير هوښيار دی.
پوليسو و ويل:
راځئ چې يوځای يې ولټوو.
هر څومره چې هغوي کوکری و لټاو، هغه يې ونه موند.
وروسته پوليسو ما کسيم ته و ويل:
نن ورځ د ښاروالۍ کسانو(خلکو) ستاسو ودانۍ ته خبرمه يوه نامنونی سپين کوکری نيولی دی، کوم يې چې د کوڅه ډبو سپيانو کمپ ته ليږدولی، موږ فکر کوو چې دا ستا سپين کوکری (جيک) دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ماکسیم ډیر خپه شو.
پولیسو ماکسیم ته و ویل:
مهرباني وکړئ د خپلو سپیو اسناد وښایاست.
ماکسیم پولیسو ته د سپیو اسناد وښودل، پولیسو ورته و ویل:
ایا تاسو غواړئ جیک بیرته، کور ته راوړئ؟
هغه و ویل:
هو!
کوکری پر ما او میرمن مې ډیر ګران دی.
د پو لیسو قوماندان و ویل:
مهرباني وکړئ د هغه کارت واخلئ.
مور. کولی شو د کوڅه ډبو سپیو کمپ ته لاړ شو.
ماکسیم د جیک کارت واخیست او د موټر په سوچبورد کې یې کېښود او هغه موټر پخپله چالان او د پولیسو د کاروان څټ (شاته) روان شو.

کمپ له ښار څخه لیرې و، د ښار له مرکز څخه دوه ساعته لیرې و، دوی د کوڅه ډبو سپیو د کمپ مرکز ته ورسیدل.
پولیسو د ماکسیم سپي په اړه له چارواکو سره خبرې وکړې او دوی د ماکسیم له پاره د اصولو دوې فورمې ورکړې، وروسته له دکولو یې د پولیسو دفتر ته وسپاري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په فورم کې دوه مهم موضوعات وو:
۱- د جريمې ورکول
۲- د موضوع تکرار، نه کول
د دويمې فقرې په صورت کې د سپي د ساتلو ټول امتيازات به له ماکسيم او د هغه له مېرمنې څخه اخيستل کېږي او د هغوی سپي به نورو مينه والو ته په وړيا توګه ورکول کېږي.
ماکسيم له جيب څخه قلم راو ويست او فورمه يې ډکه او لاسليک کړه، د ښاروالۍ مامورين ماکسيم د جک د تسليمېدو په موخه لوی هنګر ته بوته او هغه سپی يې وښود چې نن نيول شوی و.
هغه خپل سپي ته غږ کړ:
جيک!
جيک!
جيک منډه کړه او د ماکسيم غېږ کی ځان واچاوه، هغه په خوښۍ سره جيک کلک کړ.

چارواکي پوه شول چې سپی د ماکسيم پورې اړه لري، بيا يې عمومي دروازه خلاصه کړه او ماکسم کارټن دننه او کوکری يې په کارټن دننه کېښود او د کارټن پورتنۍ برخه يې خوندي کړه. کارټن يې واخيست او د موټر ډاله (ټولبکس) کې يې کخيښود او ډاله يې بنده کړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه د کوڅه ډبو سپیو د کمپ له مسوولینو، سیمه ییزو پولیسو څخه مننه وکړه او کور ته روان شو.

کله چې ماکسیم کور ته ننوت، سپیو منډې کړې او هغه ته نږدې شول، دوی هم په جیک ډیر په غوسه شول، ماکسیم کارتن په دالان کې کېښود او خلاص یې کړ. جیک خپل سر او دوه لاسونه د کارتن څخه راو ویستل او لومړی یې له مور څخه بخښنه وغوښته، مور یې بخښنه وکړه.



(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه په ډېر شرم او خجالت سره له کارټنه ووت او وروسته یې له خپل پلار څخه بخښنه وغوښته او بیا ماکسیم ته لاړ، د هغه پښې یې ښکل کړې او ژمنه یې وکړه چې په راتلونکي کې به له اجازې پرته هیڅ ځای ته نه ځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# نامنونی

# پرانګوری



(c) ketabton.com: The Digital Library





مقصود د کابل ښار په يو کوشني کور کې اوسېده، هغه په خپل کور کې يو سپين او ښکلی قاز (غاز) ساتلی و کوم چې دوه بچيان يې درلودل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

نامنوني ژوي

..............................................................................



(c) ketabton.com: The Digital Library





دوی هم سپین او ښکلي وو.
مقصود، هره ورځ به کار ته له تلو مخکې لومړی قازانو ته دانه او اوبه ورکولې، بیا به یې موټر سایکل له کوره ایسته او خپل کار ته به روان کېده.

هغه د کابل د منډیو په بازار او د میوند سړک په اوږدو کې له یوه ځای څخه بل ځای ته مالونه لیږدول (رسول، انتقا لول) او هره ورځ به یې له ګټلو پیسو څخه د سودا او وچې ډوډۍ په اخیستلو کې ترې ګټه اخیسته.

(c) ketabton.com: The Digital Library



..............................................................................

هغه یوه ښځه او پنځه ماشومان درلودل.
مېرمن يې نالوستي (بی زدکړی، بی سواده ) وه او ماشومان يې کوچني وو.

د هغه مشر اولاد چې نجلۍ وه، د ښوونځي په دويم ټولګي کې زدکړې کولې، غوښتل يې چې له ښوونځي څخه فارغه (خلاصه) شي، بيا په پوهنتون کې زده کړې وکړي او د کور په چارو کې د خپل پلار او مور سره مرسته وکړي.

مقصود به سهار له خوبه پاڅېده او له لمانځه وروسته به يې د سهار چای څښه، کوم چې مېرمنې يې د شپې په ترموز( د چای لوښی) کې پخې (دم) کړې و، تر څنګ به يې وچه ډوډۍ او يوه کاچوغه (قاشقه) بوره هم پيالې ته اچوله او بيا يې چای څښه.
د چای څښلو نه وروسته به کار ته روان شو.
د هغه کور، کرايي و.
مقصود به د مياشتی ۲۰۰۰ افغانی د کور خاوند ته ورکولې.
د کور څاه هم وچه وه،

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښځې يې خپلو دوو لويو ماشومانو سره، په ورځ کې دوه ځله د جومات له څاه څخه اوبه راوړي، کوم چې د دوی کور ته نږدې موقعيت در لود.
يوه ورځ د کافروشې له کوڅې تېرېده چې خپل ملګری يې ولید.
د هغه نوم خانو و.
هغه د قدوس د ماشومتوب ملګری و، دوی په لومړنی ښوونځي کې ټولګيوال وو او له کورنيو جګړو وروسته دواړو ونشو کولی، ښوونځي ته دوام ورکړئ.
يو بل ته يې سلامونه او غېږې ورکړې او د يو بل د حاله يې پوښتنې وکړې.

د هغه د ملګري ورځ هم ښه نه وه، هغه په پنجره (قفس) کې مرغۍ پلورلې او د خپلې کورنۍ ملاتړ يې کوه.
خانو له مقصوده وپوښتل:
تاسو په څه بوخت ياست؟
مقصود ځواب ورکړ:
زه يو زوړ موټرسايکل لرم او په هغه کار کوم.
د خدای شکر دی!
زه د حلالې ډوډۍ يوه برخه ترلاسه کوم او له خپلې کورنۍ سره يې خورم.
خانو و پوښتل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



تاسو د ملګرو ملتونو له مرستو څخه راضي یاست؟
هغه ځواب ورکړ:
نه!
کومه مرسته؟
هر څه بډایه خلکو ته رسیږي، هیڅوک د بې وسه خلکو په غم کې نه دي.
هغه آه و ویست؛
و یې ویل:
په بشپړه توګه همداسې ده.
ما هیڅکله هم نه دي ترلاسه کړي.
خدای دې زموږ سره مرسته وکړي.
مقصود و ویل:
آمین!
د دوی خبرې، اترې روانې وې، خانو د خپل ملګري له پاره چای وغوښت له دوکاندار څخه یې یوه تشه بوشکه واخیسته او پنجرې (قفس) ته څېرمه یې کښېښوده، خپله پخوانۍ زوړ پټو(څادر) یې پر سر کښېښود او مقصود ته یې و ویل:
کښېنه!
اوس سمه شوه.
قدوس کښېناست.

(c) ketabton.com: The Digital Library



خانو له زاړه او تور لوښي نه چای پیاله کې واچوه، پیاله یې قدوس ته وړاندی کړه او هغه ته یې و ویل:
دا دی، چای واخله چې دمه دې جوړه شي.

مقصود د چای پیاله واخیسته، پوه پوه یی کړه او په ښنلو یی پیل کړ.
خانو خپل جیب ته لاس کړ او د محلي خوږې (شیرینې) یوه ټوټه یې ومونډله او خپل ملګري ته یې ورکړه چې له چای سره یې و خوري.

خانو خپلې خبرې ته دوام ورکړ او ویې ویل:
څو ورځې وړاندې یو ځوان هلک له کوم ولایت څخه یو پړانګوری د خرڅلاو له پاره راوړی و، چې هیچا له ویرې نه اخیست، ځکه چې د وحشي ځناورو(ژویو) لکه:
زمری، پړانګ، ګیدړ او لیوه، ساتل څه آسانه کار نه دی، که هر څومره د سړی سره لوی شي، بیا هم له انسانانو سره مینه نه لري او کله چې غوسه شي، پر انسانانو برید هم کوي.
مقصود وپوښتل:
آیا په پای کې یې هغه وپلورل شو یا یې له ځانه سره بېرته یووړل؟
خانو و ویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



.................................................................................................

ما ورته و ویل:
۱۰۰۰ افغانۍ يې اخلم.
ډېر یوخوا او بله خوا لاړ، هېڅوک يې د اخیستو جرأت ونه کړ، ځو ځو ځله يې ماته راغلی چې ډېرې پیسې راکړې، تاته به يې درکړم.
ما و ویل:
زه له دې څخه زیاتې پیسې نه لرم او له بلې خوا هغه د شیدو خوړلو په حال کې دی.
کله چې غټ شي نو په یوه کیلو غوښه هم نه شي مړېدای!
په پایله کې، هغه ما ته پړانګوری را کړ.
ماښام مې هغه کور ته یوړ،
مېرمن مې په غوسه شوه او ویې ویل:
موږ د ځان له پاره ډوډۍ نه لرو، موږ د پړانګوري له پاره شیدې او غوښه د کوم ځایه ترلاسه کړو؟
تر ټولو مهمه خبره داده چې:
پړانګوری به لوی شي او کېدای شي زموږ ماشومان یا ګاونډیان ژوبل او یا وډالړي.
خانو و ویل:
دا ریښتیا ده، زه هڅه کوم چې هغه په یو چا وپلورم.
دا هم یو شوق و، او خپل ملګري ته يې و ویل:
ته څنګه!
د پړانګوري شوق لرې؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه و ویل:
هو!
زه خو شوقي یم،
که ته نشئ کولی هغه وساتې، ما ته یې راوړئ.
زه به هڅه وکړم چې هغه وساتم.
قدوس زیاته کړه.
زه په کور کې قاز هم لرم او ښه پالنه یې کوم.
مقصود، خانو ته د سودا پیسې ورکړې او ورته یې و ویل:
لاړ شه هغه ماته راوړه!
خانومقصود ته و ویل:
ته دلته کښېنه، زه به کور ته لاړ شم، ډېر ژر به بېرته راشم او پرانګوری به درته راوړم.
قدوس و ویل:
سمه ده؛
پوه شوم!
بیا خانو غږ کړ:
که څوک د دغو مرغانو(الوتونکو) د بیې پوښتنه وکړي، یو مرغه له ۳۰۰ افغانیو لږ نه دی.
مقصود و ویل:
سمه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



خانو کور ته لاړ او یو ساعت وروسته، بیرته راستون شو، پړانګوری یې د غوړیو په کارتن کې اچولی و او مقصود ته یې وسپاره.
خانو په خپل زړه کې و ویل:
خدایه شکر!
چې د پړانګوري د جنجال(غم) نه خلاص شوم.
هغه ژمنه وکړه چې:
په راتلونکي کې به داسې بی ځایه شوقونه ونه کړي.

مقصود پړانګوری کورته یوړ، کله چي میرمن یې کارتن ولید نو ډیره خوشحاله شوه او سوچ (فکر) یې وکړ چي د کور سودا یې راوړې ده.
مقصود کارتن په ځمکه کېښود او میرمن یې د کارتن خوا ته راغله.
مقصود و ویل:
په کارتن کی سودا نه ده.
مېرمنې یې وپوښتل:
نو څه دي؟
مقصود و ویل:
پړانګوری دی.
مېرمن یې و پوښتل:
دا دې چیرته ترلاسه کړ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



........................................................................................

هغه و ويل :
ما دا له خپل ملګري څخه اخيستی، کوم چې په کاه فروشې کې د مرغيو د خرسلاو پنجره (قفس) لري.
ښځې وپوښتل:
په څو افغانۍ دې اخيستی دی؟
هغه و ويل :
۱۰۰۰ افغانۍ.
ښځې و ويل:
اې زما خدايه!
موږ د ځان له پاره ډوډۍ نه لرو، موږ به دا خطرناک پړانګوری چيرته او څنګه و ساتو؟
مقصود و ويل:
اوس مې يو شوق کړی دی.
سړی شوق ته نه پرېږدې؟
ميرمن يې ماشومانو ته و ويل:
هڅه وکړئ چې پړانګوري ته نږدې نه شئ، ځکه چې ، کېدی شي تاسو ژوبل کړي.
ماشومانو و ويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library





**سمه ده!**

**مورې!**

مور پړانګوري ته، نه نږدې کېږو.

ماشومان، کوره ته ننوتل او مقصود د قاز کور ته نږدې شو، او پړانګوری يې په يوې ټوکرۍ کی د قاز د کوټې خوا سره کېښود تر څوچې، په يوه وخت کې دواړو ته خواړه او اوبه راوړی و همدا راز يې سوچ کوه چې پړانګوری له کوښني والي نه د قاز، د بچيانو سره بلد او عادت کړي.

هغه له کوره و وت او له نيم ساعت وروسته يې د پړانګوري له پاره يوه اندازه شيدې او کور له پاره وچه ډوډۍ راوړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډوډۍ يې خپلې وړې لورته ورکړې، د کور څخه يې يو زوړ لوښی را و ويست، شيدې يې په کې واچولې او د پړانګوري مخې ته يې کېښودې.

پړا نګوري هم شيدې وڅښلې، مقصود ته يې وکتل او د قاز کور ته نږدې شو او هلته يې سپلت و واهه.
پړانګوری، ورځ په ورځ لوېده، د مقصود او قاز بچيانو سره يې لوبې کولې.

يوه ورځ پړانګوري خپلې ټوکرۍ نه و وت او د قاز بچيانو په لور يې منډه کړه.
پړانګوري غوښتل چې د قاز بچيانو سره لوبې وکړي.
د قاز بچيان د پړانګوري څخه ډاريدل او نه يې غوښتل چې د پړانګوري سره لوبې وکړي.
پړانګوری د قاز بچيانو شاته منډه کړه، خو د قاز بچيانو ځانونه، په خپل کور کی پټ کړل.
پړانګوری د څو دقيقو له پاره د قاز د کور په څنګ کې پټ شو تر څو چې د قاز بچيان بهر را و وزي.

(c) ketabton.com: The Digital Library





کله چې د قاز بچیان بهر شول، هغه بیا د هغوی شاته منډه کړه.
د قاز بچیان له خپلې مور څخه ډېر لېرې وو، کله چې د قاز بچیانو ته پړانګوری نږدې شو، نو قاز منډه کړه او پړانګوری یې په مشوکه و واهه.
پړانګوری خپلې ټوکرۍ خواته روان شو.
د شپې ناوخته وه، مقصود کور ته راغی، لومړی یې د پړانګوري ټکرۍ ته ورغی او ویې لیدل چې پړانګوری، نشته، بیا یې شاوخوا وکتل، ګوري چې د قاز د کوټې څنګ ته ویده دی.

بیا یې په زړه کې و ګرځید چې:

(c) ketabton.com: The Digital Library



پړانګورى و تړي، تر څو د قاز بچيانو ته نقصان و نه رسوي.

هر لوري ته يې وکتل خو کومه رسۍ يې پيدا نکړه.
هغه پريکړه وکړه چې پړانګورى خوشې پريږدي او سبا به د منډه يې څخه يوه پياوړې رسۍ واخلي.
سهار شو؛
لمړى منډوي ته لاړ ترڅو يوه پياوړې رسۍ واخلي او پړانګورى پرې وتړي،
سهار وختى و، هڅې تړلې وې،
هغه بيرته راستون شو، چاى يې و څښه، لږ وروسته يې موټر سايکل واخيست او خپل ورځني کار ته لاړ.
له کوره د وتو په وخت کې خپلې مېرمنې ته و ويل:
پړانګورى خوشې دى، پام کوه چې ماشومان و نه غورځوئ.
مېرمنې يې و ويل:
تا موږ ته غم راوړى دى.
سمه ده،
زه هغه کوم چې ماشومان د کور وتلو څخه وساتم.
ته ژر لاړ شه، رسۍ راوړه او پړانګورى ټينګ وتړه.
هغه لاړ او ميرمن يې د کوڅې دروازه وتړله.
څو شېبې تېرې شوې او فضا ارامه شوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



پړانګوری له خپل ځای څخه پاڅېد او د قاز د بچیانو شاته یې منډه کړه.
د قاز بچیانو منډې کړې او خپل کور ته ورغلل، پړانګوری په غوسه شو او خپل لاس یې د قاز کور ته د ننه کړ او د قاز بچی یې راو ویست.
په همدې وخت کې د قاز بچي غږ کړ:
مور!
مور!
مور یې منډه کړه، ویې لیدل چې پړانګوری د هغې بچی یې په منګلو کې نیولی دی.
پړانګوري پسې منډه کړه او هغه یې په مشوکې او پښو سره و واهه، هغه هم د قاز بچې پرېښود.
په همدې وخت کې د مقصود مېرمن خبره شوه او د قاز د کور په لور روانه شوه.
هغه هم د پړانګوري د مخنیوي له پاره یوه لښته واخیسته.
پړانګوری و ډار شو او شاو خوا یې و کتل تر څو چیرته پټ شي، مناسب ځای یې و نه موند بیا یې دروازی خواته منډه کړه، دروازه لږه خلاصه وه، هغه تر دروازې و وت ، د مقصود موټرسایکل ته پورته شو او په کونج کې کخښیناست.
د قاز بچی په ژړا شو، ځکه وزرونه یې زخمي شوي ول.

(c) ketabton.com: The Digital Library



کله چې قاز خپل بچی ټپي ولید، هغه هم دروازی خواته منډه کړه او و وته.
ګوري چې پړانګوری موټر سایکل ته پورته شوی دی، هغه هم ورپسی پورته شوه او پر پړانګوري یې ګذارونه پیل کړل.
پړانګوري خپل ځان د موټرسایکل په یوه کونج کې نیولی و او ببښنه یې غوښتله.
هغه ویل:
ما غوښتل له هغه سره لوبې وکړم.
خو ستا بچي وېرېدل او له ماسره یې لوبه نه کوله.
قاز و ویل:
ته نه شرمیږې چې زما له بچیانو سره لوبې کوې؟
هرڅوک باید د خپل همزولي او جنس سره سم لوبې وکړي.
هغه یو ځل بیا پر پړانګوري برید وکړ.
د مقصود ښځې چې په لاس کې یې یوه لښته وه ویې غوښتل چې پر پړانګوري برید وکړي، خو ویره یې درلوده چې د قاز د بچي په څیر، ټپي نه شي او بیا به د خپل میړه په جنجال کې پاتې شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library





(c) ketabton.com: The Digital Library






کله چې مقصود کوڅې ته ورسېد، ګوري چې  د هغه په موټر سایکل کې د قاز او پړانګوري تر منځ جګړه روانه ده،

منډه یې کړه چې هغوي سره جلا کړي، مګر قاز ډېر په غوسه و او نه یې غوښتل چې له پړانګوري لرې شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



......................................................................................

قدوس د مرستې له پاره کور ته د ننه شو،
د مقصود مېرمن کوځې دروازې ته ورغله او ويې ويل:
هله!
ژر سه هغوی خلاص کړه.
هغه و ويل:
راشه !
له ما سره مرسته وکړه.
هغې و منله او مڼده يې کړه،
بيا يې و ويل:
ژر سه پړانګوری و تړه.
مقصود و ويل:
وګوره!
قاز ملامت دی،
وګوره!
په موټر سايکل کې هم پر پړانګوري بريد کوي.
مېرمنې يې و ويل:
نه!
پړانګوری ملامت دی، هغه د قاز بچی ټپي کړی او وزرونه يې په وينو لړلي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



مقصود د موټرسايکل څنګ ته ورغی او د قاز له وهلو څخه يې پړانګوری وژغوره او رسۍ يې ونيوله، هغه يې وتاړه.
وروسته قدوس د قاز بچی واخيست او وزرونه يې پاک کړل او د ماشومانو پوډر يې پر زخمونو وپاشه.
ډېر غمجن شو، په سوچ کې ډوب اوله ځانه سره يې و ويل:
ما څه غلطي وکړه.
که پړانګوری، لوی شي، کېدای شي زما ماشومان هم وغورځوي او ټپي يې کړي.
هغه کوټې ته لاړ.
د هغه ماشومان هم ډېر وېرېدلی وو.
خپلې ميرمنې ته يې و ويل:
کار ته د تلو د مخه يو څه راوړه، زه به وروسته خپل ملګري ته لاړ شم چې د حل لاره و مومي.
چای يې وڅښې او موټر سايکل يې واخيست او له کوره و وت.
هغه په ژور فکر کې و او په خپله تېروتنه پوه او ډېر پښيمانه و.
په موټرسايکل کې يې يو څه سامان کېښود او د مال خاوند هم د هغه ترڅنګ کخښيناست.
هغه د نوي کارټې په لور حرکت وکړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه لږ حرکت وکړ، نږدې و چې د موټر سره ټکر شي.
د بار خاوند ورته و ویل:
ته څه کوئ؟
په څه فکر کوئ؟
نږدې وه زه دې وژلی وم!
هغه د پړانګوري د ساتلو کیسه په لنډه توګه بیان کړه:
بار والا و ویل:
تا ډېره غلطي کړې ده.
مقصود ته یې و ویل:
خلک وایي:
په پای کې، د لیوه بچې لیوه وي،
که هغه د یوکس (چا) سره لوی هم شي.
هغه زیاته کړه:
وحشي ژوي، هیڅکله له انسانانو سره دوستي نه کوي.
مقصود بار والا ته و ویل:
هو!
د حل لاره څه ده؟
هغه ځواب ورکړ.
اوس د فلم لمړی برخه ده، غوره ده چې دا په یو چا وپلورئ یا ژوبڼ ته یې وسپارئ.
مقصود و ویل:
ستا نظر سم (صحیح) دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو!
ما په ۱۰۰۰ افغانیو اخیستی دی.
بار والا و ویل:
زه یو سوداګر یم.
که د ورځې شیدې په ۵۰ افغانۍ وپېرې او بیا غوشه، دا به په یوې میاشت کې ۱۵۰۰ افغانۍ شي.
هرڅومره چې هغه لوی شي، هومره یې مصرف (خرچه) ډیرېږي او خطرناک کېږي.
اوس چې یې د قاز بچی، ټپي کړی دی، هغه ستا ماشومان هم ټپي کولی شي.
هغه و ویل :
زما ستا خبرې ډیرې خوښې کړې، زه به یې حل کړم.
دوی خبرې وکړې او هدف ته ورسېدل، بار والا و ویل:
د دې هټۍ تر څنګ ودرېږه!
هغه د هټۍ تر څنګ ودرېد بار والا خپل زوی ته غږ کړ.
زویه!
راځئ چې بارونه کښته کړو.
هغوی بارونه کښته کړل او ټاکلی فیس یې قدوس ته ورکړ.

مقصود خدای پامانی و اخیسته او د کور په لور روان شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه خپل موټرسايکل د سړک په غاړه کې ودراوه او د کاه فروشي کوځې ته لاړ.

هغه خپل ملګري ته لاړ او خپله کيسه يې ورته وکړه.
ملګري يې وارخطا شو او ويې ويل:
دا ښه شوه چې بلا وه او برکت يې نه و.
دا ښه ده، چې ستا ماشومان يې نه دي ټپي کړي!
خانو و ويل:
زه څه کولای شم؟
مقصود و ويل:
ښه به وي که تاسو ما سره د هغه پلورلو کې مرسته وکړئ.
هغه مقصود ته و ويل:
ته دلته کښېنه!
زه به لاړشم او له هټۍ والو نه به پوښتنه و کړم.
مقصود  د مرغيو پنجرې (قفس) ته نږدې کښېناست او خانو د کوځې ختيځ لوري ته روان شو.
خانو د خپل ملګري هټۍ ته ننوت او د پړانګوري د خرڅلاو پوښتنه يې وکړه.
هټيوال و ويل:
اوس هيڅ پيرودونکي نشته.

(c) ketabton.com: The Digital Library



..............................................................................................

ځکه چې خلک د ډوډۍ په غم کې دي، چا چې دا کارونه کول، ټول له هيواد څخه تښتېدلي دي.
خانو بيرته ستون شو.
خانو د هټيوال خبرې مقصود ته نکل (نقل) کړې.
مقصود ډېر په غوسه شو او موټرسايکل ته ورغی،
موټرسايکل يې چالان او کور ته روان شو.
د کور دروازه يې ټک ټک کړه.
ښځې يې دروازه خلاصه کړه او ويې پوښتل:
خيرت خو به وي؟
ته ولې وختي راغلې؟
هغه و ويل :
زه ډير انديښمن يم، نږدي و چې له موټر سره ټکر کړم.
مېرمنې يې و ويل:
شکر دی چې په خير تېر شو.
ته اوس، څه پريکړه کوئ؟
هغه و ويل:
زه پړانګوری نيسم او ژوبڼ ته يې وړم.
هغه موټرسايکل نژدې ودراوه، پړانګوری يې موټرسايکل ته پورته او بند يې کړ.
وروسته له کوره و وت او ژوبڼ ته لاړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه د ژوبڼ دروازې ته نږدې شو او موټرسايکل يې ودراوه او د دروازې له ساتونکي يې وغوښتل چې د ژوبڼ له مدير سره و ويني.
پيره دار د ژوبڼ مدير ته زنګ و واهه او د مقصود په اړه يې معلومات ورکړ.
د ژوبڼ مدير پيره دار(ساتونکي) ته و ويل:
اجازه ورکړئ چې دننه شي.
هغه دننه شو،
بل ساتونکی نږدې ورغی او ويې ويل:
موټرسايکل په کونج کې پارک کړئ او د ژوبڼ مدير ته انتظار وکړئ.
موټرسايکل يې په ټاکلي ځای کې ودراو، او تر ونې لاندې يې د ژوبڼ مدير ته انتظار شو.
څو دقيقې تېرې شوې وې چې د ژوبڼ مدير هغه ته راغی او د پړانګوري په اړه يې وپوښتل.
هغه قضيه له پيل څخه تر پايه تشريح کړه.
د ژوبڼ مدير پوه شو چې ريښتيا وايي.
بيا يې پوښتنه وکړه؟
آيا تاسو غواړئ چې په ژوبڼ يې وپلورئ؟
هغه و ويل:
هو ښاغليه!
که کېږي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



.........................................................................................

د ژوبڼ مدیر وخندل او محاسب ته یې و ویل:
مهرباني وکړئ د دې هدف له پاره ۱۲۰۰ افغانۍ ورکړئ. ۱۰۰۰ افغانۍ د پړانګوري له پاره، د لارې کرایه سل افغانۍ او د شیدو له پاره ۱۰۰ افغانۍ چې هغه نن اخیستې دي.

مقصود، پړانګوری د ژوبڼ ساتونکو ته وسپاره او پیسې یې د محاسبې څخه واخستې.
دژوبڼ ساتونکو پړانګوری د نورو پلانګورو سره خوشې کړ.



(c) ketabton.com: The Digital Library



مقصود ډیر خوشحاله شو او د موټرسایکل په لور روان شو.
موټرسایکل يې چالان او د کور په لور روان شو.
په لاره کې يې و ويل:
خدايه!
شکر!
چې زه له دې جنجال څخه خلاص شوم او په راتلونکي کې به دا ډول غير ضروري شوقونه و نه کړم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



..............................................................................

**اخځوک**

يوازې انځورونه په ځير(دقت) سره د انټرنټي سايټونو په مرستې سره يو ښان، اخيستل شوي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د چاپ شويو کتابونو لېست

۱. معماری افغانستان
۲. اطلاعات، اصول و قواعد طراحی در معماری
(بخش شفاخانه ها)
۳. راهنمود طلایي
(برای اساتید انستیتوت های تخنیکي و ساختمانی افغانستان)
٤. رسم تخنیک (گامی به سوی دنیای انجینری) جلد اول
٥. رسم تخنیک (گامی به سوی دنیای انجینری) جلد دوم
٦. اطلاعات، اصول و قواعد طراحی در معماری (بخش اداری)
۷. معماری اصیل شهر کابل (مرادخانی)
۸. معماری شهر کابل (بی بی مهرو)
۹. افغانستان در قرن تکنالوژی
۱۰. زونبندی اقلیم و زلزله افغانستان
۱۱. صدقه جاریه/ دنیای انجینری
۱۲. آموخته های ناب از طراحی تا نظارت
جلد اول (۱۹۹۰ الی ۲۰۲۱)
۱۳. داستان حقیقی با مقیاس معماری
۱٤. فرار از کشور- با تصاویر مستند
۱٥. نقش دانشمندان مسلمان در فن معماری و مهندسی
۱٦. پخسه در افغانستان
۱۷. بنیا نگذاری اولین مساجد توسط افغانها در آسترلیا
۱۸. آموخته های ناب از طراحی تا نظارت
جلد دوم (۱۹۹۰ الی ۲۰۲۱)

(c) ketabton.com: The Digital Library



................................................................................

۱۹. منار جام - الهامی برای قطب منار
۲۰. آموخته های ناب از طراحی تا نظارت
جلد سوم (۱۹۹۰ الی ۲۰۲۱)
۲۱. جام یا کلیان ( کلان)
۲۲. معماری گل و چوب (معماری شهر کهنه کابل) جلد اول
۲۳. معماری گل و چوب (معماری شهر کهنه کابل) جلد دوم
۲٤. معماری گل و چوب (معماری شهر کهنه کابل) جلد سوم
۲۵. چېر ته چې قانون نه شته (ګډوډي د افغانستان په معمارۍ کې)
۲٦. مډرنه جوما تونه ,, پخوا او نن ،،
۲۷. هله جور کو (نی پخسه – مقاوم زلزله)
۲۸. اطلاعات، اصول و قواعد طراحی در معماری (بخش مساجد)
۲۹. اطلاعات، اصول و قواعد طراحی در معماری (بخش مکاتب)
۳۰. هنر و صنعت چوب در مرادخانی
۳۱. هنر و پیشه حکاکي - زرگری در مراد خانی
۳۲. هیچ (چهل داستان واقعی)
۳۳. معماری اصیل شهر کابل
(تشریح مورخ ۱۷ ماه میزان سال ۱۴۰۱ پوهنتون پولی تخنیک کابل)
۳٤. ۴۰- چهل
۳۵. مجنون او ګلچېن (ناول په پښتو ژبه)
۳٦. در جستجو (ناول به زبان دری)
۳۷. تفاوت ها تفاوت می آورد (کتاب تصویری)
۳۸. مجموعه از دروس دینی مولوی صاحب خیرالله مخدوم
(جلد اول)

(c) ketabton.com: The Digital Library



۳۹. برف ها آب میشود
٤۰. رسم و تخنیک (گامی به سوی دنیای انجینری) جلد سوم
٤۱. آرزو و امید (ناول به زبان دری)
٤۲. بوډا ښکاري (داستان په پښتو ژبه)
٤۳. نامنوني ژوي (ټوکي، شوخ، مسخره)

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د چاپ لاندې کتابونو لېست

١. مجموعه از دروس دینی مولوی صاحب خیرالله مخدوم (جلد دوم)
٢. حیوانات شوخ
٣. په اسلامي نظام کې ودانیز پرمختګ
٤. د افغان الک او آذري جلۍ مینه
٥. د ژرنده ګړي ماما مینه
٦. د اسلامي معمارۍ پیل
٧. د شپیلۍ مېنه (مه بېنه) په کچه ګړۍ کې
٨. سرغندوی (ناب، مشهور) پوډري
٩. لیونی لېوه
١٠. بې زده کړې پوی
١١. شپېنه ادې
١٢. کوشنۍ سوداګره
١٣. سپین کارغه
١٤. سور تنور
١٥. خړه بیزو
١٦. بندي مرغه
١٧. توده برستن
١٨. د ژوند پای

(c) ketabton.com: The Digital Library



..............................................................................................

## د امکان او وخت په صورت کې

۱. پخسه در افغانستان (به زبان انگلیسی)
۲. تاریخ معماری افغانستان
۳. حویلی های آسمان خراش
٤. ارتباط گذ شته، حال و آینده در معماری
٥. استعداد، سرعت و اقتصاد در معماری افغانستان
٦. شیطان چراغ
۷. خاطره ها

(c) ketabton.com: The Digital Library

# Funny Animals

Written by:
Architect PHD
Hashmatullah Atmar

December 2023/Janury-2024

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**